# کورنۍ د خپلو ماشومانو د استازو په توګه:
# د خپل څو ژبني زده کوونکي لپاره غږ پورته کول

د یوې څو ژبې کورنۍ په توګه، د خپل ماشوم استازیتوب پدې معنی دی چې تاسو حق لرئ د خپل ماشوم د ژبې په وده، زده کړه او تعلیم کې د ښوونځي د درناوي وړ ملګري په توګه خبر، ښکېل او محترم واوسئ. دا سرچینه د موضوعاتو ساحې او نمونوي پوښتنې وړاندې کوي چې والدین او کورنۍ یې له ښوونکو څخه وپوښتي او موخه یې د هغوی د استازیتوب هڅې پیاوړې کول دي. دا ستاسو په خیر د کورنیو په مرسته رامینځته شوې چې د خپلو ماشومانو لپاره د استازیتوب په برخه کې یې خپل لومړیتوبونه شریک کړي. تاسو کولی شئ هغه موضوعات او پوښتنې وټاکئ چې تاسو ته ډیر اړوند لری او د اړتیا په صورت کې نورې پوښتنې ور اضافه کړئ.

## د دوه اړخیزو اړیکو، ژبې ته د لاسرسي او ښکیلتیا وده

تاسو حق لرئ چې ستاسو او ستاسو د ماشوم د ښوونځي ترمنځ روښانه، دوامداره او د لاسرسي وړ اړیکې ولرئ. دا هم مهمه ده چې تاسو د ښه راغلاست او شاملیدو احساس وکړئ.

### دوه اړخیزې اړیکې

١. آیا په ښوونځي یا اړونده اداره کې څوک شته چې په ځانګړي ډول له کورنیو سره کار کوي؟ که ځواب هو وي، نو څنګه کولی شم له هغوی سره اړیکه ونیسم؟

٢. ستاسو په نظر، د ماشوم د پرمختګ په اړه د معلوماتو لپاره غوره وخت کله دی؟ او که زه کومه پوښتنه ولرم، نو څنګه کولی شم په اسانۍ سره له تاسو سره اړیکه ونیسم؟

٣. ستاسو په فکر د ښوونځي او زما ترمنځ د معلوماتو شریکولو او په اړیکه کې پاتې کیدو لپاره تر ټولو غوره لارې کومې دي؟

### ژبې ته لاسرسی

١. آیا ښوونځی یا اړونده اداره د لیکلي او ګړنۍ ژباړې خدمات وړاندې کوي؟

٢. که له ښوونکي سره خبرو یا په ښوونځي کې له چا سره لیدنې ته اړتیا ولرم، څنګه کولی شم د ژباړن غوښتنه وکړم؟

### ښکیلتیا

١. آیا د ښوونځي د کارونو د طریقې په اړه کوم داسې مهم معلومات شته چې زه پرې پوه شم؟

٢. زما لپاره کوم فرصتونه شته چې له ښوونځي یا ټولنیزو همکارانو سره په فعاله توګه کار وکړم؟ (د بېلګې په توګه، د غونډو په پلانولو کې مرسته، په پریکړو کې ګډون، یا د ښوونځي د ښه والي په هڅو کې برخه اخیستل).

٣. د کورنیو لپاره کوم فرصتونه شته چې خپل نظریات شریک کړي، د ښوونځي له کارکوونکو سره همکاري وکړي، یا په ښوونځي او ټولنه کې له نورو کورنیو سره اړیکې جوړې کړي؟

## د زده کوونکو د زده کړې، علمي ودې او هوساینې ملاتړ

تاسو حق لرئ پوه شئ چې ستاسو ماشوم په ښوونځي کې، په ټولګي کې او له هغې بهر څنګه ملاتړ کیږي.

### علمي ملاتړ او فرصتونه

١. که زه د ښوونځي د نصاب، تدریس، د ژبې د پروګرامونو یا په ټولګیو کې د ځای پرځای کیدو په اړه پوښتنې ولرم، له چا سره باید خبرې وکړم؟


WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin–Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA

۲. که زه د خپل ماشوم د علمي پرمختګ، ژبې د ودې یا د ټولګي په اړه کومه پوښتنه یا خبره ولرم، له چا سره باید خبرې وکړم؟
۳. زما لپاره کوم فرصتونه شته چې له ښوونځي سره همکاري وکړم او په کور او ټولګي کې د خپل ماشوم د زده کړې ملاتړ وکړم؟
٤. د خپل ماشوم لپاره د علمي سرچینو، اضافي مرستو، یا د بورسونو او پوهنتون یا مسلک ته د چمتووالي په څېر فرصتونو په اړه معلومات له کومه ترلاسه کولی شم؟

## هوساینه او ملاتړیز خدمات

۱. ښوونځی څنګه د څو ژبو زده کوونکو لپاره یو ښه او هرکلی کوونکی چاپیریال رامنځته کوي او له هغوی سره مرسته کوي چې په ټولنیز او احساساتي توګه ځانونه خوندي، شامل او ملاتړ شوي احساس کړي؟
۲. که خدای مه کړه، په ښوونځي کې څوک زما ماشوم وځوروي یا ورته مزاحمت وکړي، نو ښوونځی په دې اړه څه ډول اقدامات کوي؟
۳. که یو زده کوونکی په کور کې له کومو ستونزو یا اندېښنو سره مخ وي، ښوونځی څنګه د داسې ماشومانو ملاتړ کوي؟
٤. ښوونځی څنګه له ټولنیزو بنسټونو سره همکاري کوي ترڅو د څو ژبو زده کوونکو او کورنیو ملاتړ وکړي؟
٥. آیا په ښوونځي یا ټولنه کې د زده کوونکو لپاره د رواني روغتیا خدمات شته، او څنګه ورته لاسرسی موندلی شو؟
٦. څنګه کولی شم د خپل ماشوم لپاره د شته غیر نصابي فعالیتونو په اړه معلومات ترلاسه کړم؟

تاسو نورې څه پوښتنې لرئ؟ له لاندې تش ځای څخه په ګټې اخیستو سره خپلې هغه پوښتنې ولیکئ چې غواړئ له ښوونکو یې وکړي.

WIDA™
UNIVERSITY OF WISCONSIN–MADISON
wida.wisc.edu
'WIDA is housed within the School of Education at the University of Wisconsin-Madison.
© 2025 Board of Regents of the University of Wisconsin System, on behalf of WIDA